# د تجربې په وسیله متخصصین: د انګلیسي د زده کړې لپاره د محمد پنځه لاربښوونې

## د محمد تجربه

محمد تر 11 ټولګي پورې په سوریه کې زده کړې وکړې چې له هغه ځایه بیا نوموړی له خپلې کورنۍ سره مصر ته د جګړې له امله بې ځایه شو. هغه په سوریه کې په ښوونځي کې تر پنځم یا شپږم ټولګي پورې انګلیسي ولوستله، مګر دا چې دا د هغه د خوښې وړ مضمون نه و، ورو پرمختګ یې پکې وکړ. سره له دې چې هغه به غوښتل د خپلې ژبې مهارتونو ته وده ورکړي، مګر هېڅکله یې داسي تصور نه و کړی چې هغه به اړ شي تر څو هره ورځ په انګلیسي ژبه خبرې وکړي.

تر نن ورځې پورې چټک مخکې تګ - یو کال کېږي چې محمد بریتانیا ته راغلی دی، هغه په روانه انګلیسي خبرې کوي چې د کووید-19 له وبا څخه یو څو میاشتې مخکې و او په هغې پسې په پرلپسې توګه قرنطین شو. محمد څنګه وکولای شول په یو کال کې له محدودې انګلیسي څخه تر رواني انګلیسي را ورسېږ؟ دغه سرچینه د انګېزشي مطالعې، د ژبې د خلاقو مهارتونو ترلاسه کولو او په تمرکز کې پاتې کېدلو لپاره د محمد په غوره لاربښوونو را څرخي.

### #1 لاربښوونه: ومومئ چې تاسو څه شی تشویقوي!

محمد پر دې تمرکز وکړ چې انګلیسي به څنګه له هغه سره مرسته وکړي تر څو هغه وکولای شي په بېلا بېلو لارو له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. کله چې هغوی په مصر کې اوسېدل، د هغوی د کورنۍ یو غړی ډېر ناروغ و او هغه غوښتل چې له هغوی سره په بریتانیا کې په لیدنو کې داسې مرسته وکړي لکه څرنګه چې یې هلته کول. هغه پوهېده چې په انګلیسي ژبه پوهېدل او خبرې کول به نوموړي ته دا وسایل ورکړي تر څو هغه ملاتړ چمتو کړي چې د بریتانیا پر روغتیایي سیستم په پوهېدو کې او د اړیني پاملرنې په ترلاسه کولو کې ورته اړتیا ده.

همدارنګه، د محمد په خبره هغه د یوه عرب سړي په توګه داسې احساس کوي مهمه ده تر څو کار وکړي چې له کورنۍ سره مرسته وکړي او هغه له کم عمر څخه را هیسې کار کوي. حتی په سوره کې د لیسې په دوره کې نوموړي د خپل کاکا په رستورانت کې کار کاوه او کله چې په مصر کې اوسېده هغه په اونۍ کې اووه ورځې کار کاوه، په ندرت سره به یې رخصتي اخیستله. اوس په بریتانیا کې هغه لا هم د پیسو د ګټلو د اهمیت په اړه فکر کوي تر څو له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي او پوهېږي چې هغه به د انګلیسي له پیاوړو مهارتونو څخه پرته دا کار ونکړای شي.

په دې توګه له هغې کورنۍ سره مرسته وکړئ چې تاسو یې ملاتړ کوئ تر څو پوه شي چې څه شی هغوی ته انګېزه ورکوي! دا کېدای شي د یوې دندې پیدا کول وي، د موټر چلونې د یو جواز ترلاسه کول وي یا دا چې هغوی وکولای شي له خپلو اولادونو سره د ښوونځي په چارو کې مرسته وکړي.

### #2 لاربښوونه: له ټکنالوژۍ څخه اعظمي استفاده وکړئ

حتی د کووید-19 له وبا څخه د مخه محمد پر دې پوه شو چې په آنلاین بڼه پخپله زده کړې کولو هغه ته دا فرصت ورکړ تر څو په هر هغه لاره زده کړه وکړي چې د نوموړي لپاره مناسبه ده. د هغه د خوښې وړ ځینې د ټکنالوژۍ د کارولو لارې عبارت دي له:

- Google Assistant اپلیکېشن خپل موبایل ته ډانلوډ کړئ او د ګرامر او املا په اړه تري شفاهي پوښتني وپوښتئ. تاسو کولای شئ له اپلیکېشن څخه مشخصې کلیمې وپوښتئ، بېلا بېل غږونه تلفظ کړئ یا حتی ګرامري پوښتنې مطرح کړئ لکه- د few او some تر منځ توپیر څه دی؟
- د eJOY English اپلیکېشن وکاروئ تر څو هغو ویډیو ګانو ته عنوانونه اضافه کړئ چې تاسو یې په یوټیوب او د سټریمینګ په خدمتونو کې ګورئ. دا له تاسو سره مرسته کوي تر څو هغه د لغتونو ذخیره مو وساتئ چې تاسو یې د ویډیو ګانو لیدلو پر مهال زده کوئ او حتی کولای شي په هغو ویډیو ګانو کې تاسو په کلیمو کې و ازمایي چې ګورئ یې.

- که چېرته تاسو خپل ځان ته انګېزه ورکوئ، په کور کې مطالعه کوئ، په یوتیوب کې ESOL ویډیو ګانې ګورئ، دا د دې لپاره یوه غوره لاره کېدای شي تر څو پر هغو برخو تمرکز وکړئ چېرته چې تاسو ډېر تمرین ته اړتیا لرئ. په ځانګړې توګه په پیل کې کله چې تاسو کېدای شي د تېروتنو له امله د شرم احساس کوئ، تاسو کولای شئ په هغه څه سره تمرین وکړئ چې په ویډیو کې یې اورئ، تر هغې چې تاسو هوسا شئ او پر هغه ګرامر ډېر وخت ولګوئ چې تاسو یې کې ستونزه لرئ.
- په هغه مضمون کې د یوتیوب ویډیو ګانې په MP3 بڼه ډانلوډ کړئ چې تاسو ورسره لېوالتیا لرئ او په کور کې او کله چې بهر ځئ هغه اورئ تر څو په دې توګه یو څوک درسره وي چې له تاسو سره په انګلیسي ژبه خبرې کوي. که چېرته دا داسې کوم څه وي چې تاسو د مخه پرې پوهېږئ، نو لا ښه ده، ځکه چې تاسو د مخه پر مضمون پوهېږئ او تاسو به وکولای شئ چې د لغتونو په ذخیره تمرکز وکړئ.

## #3 لارښوونه: پر هغه څه تمرکز وکړئ چې ورسره لېواله یاست

د تېر کال په جریان کې، محمد پوه شو چې هغه د خپلو کلیماتو ذخیره پیاوړې کوي او کله چې پر هغه څه تمرکز کوي چې هغه ورسره لېواله دی، نو ډېر په چټکۍ سره یې زده کوي.

که چېرته تاسو له لوبو سره لېوالتیا لرئ، د لوبو خبرونه وګورئ او د خپل د خوښې وړ ټیمونو په اړه اخبار ولولئ یا د لوبو سیالۍ د خپلې اصلي ژبې پر ځای په انګلیسي ژبه تعقیب کړئ. که چېرته سیاست ستاسو خوښېږي، هڅه وکړئ چې په انګلیسي ژبه خبرونه واورئ یا وګورئ. که چېرته شاعري داسې کوم څه وي چې تاسو ورسره لېوالتیا لرئ، په انګلیسي ژبه کې د خپلې خوښې وړ شعرونه ومومئ. او که چېرته تاسو مذهبي یاست، هڅه وکړئ چې په انګلیسي ژبه کې هم دعا ګانې ولولئ. تاسو کولای شئ قرآن کریم په انګلیسي او عربو ژبو ډانلوډ کړئ او څنګ په څنګ یې ولولئ تر څو نوي لغتونه زده کړئ.

## #4 لارښوونه: یو پیاوړی اساس را منځته کړئ

د محمد لپاره د انګلیسي ژبې د زده کړې یوه خورا ستونزمنه برخه دا وه چې توري کولای شي کلیمو یا د کلیمو ربښو ته په کتو سره بېلا بېل غږونه تولید کړي. انګلیسي په بېلا بېلو ژبو کې ربښې لري ځکه خو داسې کوم واحد اصل نه تعقیبوي. په دې دلیل دا مهمه ده تر څو پوه شو چې د بېلا بېلو تورو ترکیب باید څنګه تلفظ کړای شي (د بېلګې په توګه، ing، ish، ist، sh).

## #5 لارښوونه: پرېکړه وکړئ چې ولې غواړئ انګلیسي زده کړئ

دا به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو پر هغه څه تمرکز وکړئ چې څه باید زده کړئ او څنګه یې زده کړئ. پرته له دې چې وکولای شئ د خپلې ټولنې له نورو غړیو سره مکالمات وکړئ، ایا انګلیسي د دې لپاره زده کوئ چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ یا کومه دنده ترلاسه کړئ؟

که چېرته تاسو غواړئ کار وکړئ، تر ډېره تمرکز په خبر کولو او اورېدلو وکړ. ګرامر او لیکل به تر یو حده پورې مهم وي، مګر د ډېرې پایلو لپاره چې تاسو نوم لیکنه کوئ، تر ټولو مهم مورد به دا وي چې تاسو وکولای شئ په اغېزناکه توګه اړیکې ټینګې کړئ.

که چېرته تاسو غواړئ زده کړې ته دوام ورکړئ، پر ګرامر تمرکز وکړئ او بیرته اساساتو ته لاړ شئ لکه تاسو چې په ماشوم توب کې څه کړي دي. ډاډ حال کړئ چې د ژبې لپاره ستاسو بنسټ ثابت دی او له هماغه ځایه مو را جوړ کړی دی. دا به له تاسو سره د لیکنې په برخه کې مرسته وکړي کومه چې ستاسو د زده کړې د دوام لپاره خورا مهمه ده. ستاسو د اورېدلو او خبرو کولو مهارتونه به له هماغه ځایه جوړ شي.